
هفته نامه **معارف** اوونیزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تأسیس: ۱۴۲۳ هـ ق. مطابق ۱۳۸۱ هـ ش. شماره مسلسل (۳۱۱) ماه ربیع الثانی ۱۴۴۷ هـ ق. مطابق ماه میزان ۱۴۰۴ هـ ش.

**که غواړئ تل پاتې نوم او نښان ولرئ، بچیان مو په علم او ښو اخلاقو وروزئ**

# د پوهنې محترم وزیر په میدان وردګ کې یو باب دیني مدرسه پرانیستله



د میدان وردک ولایت سید آباد ولسوالۍ په تنګي‌دره کې «د تعلیم القرآن دیني مدرسه» چې د خیري اوسېدونکو په مالي ملاتړ د ۹.۵ میلیونه افغانیو په لګښت جوړه شوې وه د سیمې یو شمېر مخورو، علماءکرامو او د خلکو استازو په حضور کې د پوهنې وزیر محترم الحاج مولوی حبیب الله آغا له لوري تر پرانیستې وروسته کتې اخیستنې ته وسپارل شوه.

د پوهنې محترم وزیر د تنګي اوسېدونکو څخه د قدردانۍ ترڅنګ، په ټولنه کې د علم او پوهې پر ارزښت خبرې وکړې او زیاته یې کړه:

۲مخ

## تقدیر شاگردان ممتاز جامعه ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه

محترم الحاج مولوی کرامت الله آخندزاده معین تعلیمات اسلامی وزارت معارف طی محفل باشکوهی از شاگردان ممتاز امتحان چهار و نیم ماهه جامعه ابوبکر صدیق (رضی‌الله‌عنه) تقدیر به عمل آورد.

در این محفل بر علاوه معین محترم تعلیمات اسلامی، محترم مولوی عبدالقدوس قدوسی رئیس دارالعلوم های این وزارت و جمعی دیگر از علماء‌کرام، شیوخ عظام و طلاب جامعه مذکور نیز حضور داشتند،

محترم معین تعلیمات اسلامی وزارت معارف طی سخنانی ضمن متوجه ساختن طلاب جامعه ابو بکر صدیق رضی الله تعالی عنه به مسئولیت‌ها و...

ص۲

## افتتاح دوباب مکتب از سوی وزیر محترم معارف در ولایت بامیان



محترم الحاج مولوی حبیب‌الله آغا وزیر معارف کشور، طی سفری که به ولایت بامیان داشت، به همراهی محترم مولوی عبدالله سرحدی والی بامیان، تعمیر های جدید دو لیسه را در ولسوالی‌های سیغان و یکاولنگ آن ولایت افتتاح کرد.

این تعمیرها که به هزینه ۴۶ میلیون افغانی از مساعدت مالی یک نهاد همکار با معارف، ساخته شده‌اند، هریک شامل ۱۶ صنف درسی، لابراتوارها، سالون‌های کنفرانس، اطاق‌های‌اداری‌ومیدان‌های ورزشی می‌باشند.

هم چنان، آغاز کار پروژه ترمیم ۴۶ باب مکتب و نصب سیستم برق آفتابی برای ۲۴ مکتب در ولایت بامیان نیز به ارزش مجموعی ۶۳ میلیون افغانی از سوی وزیر معارف افتتاح شد.

ص۲

## د ښوونې او روزنې محترم معین د مسلکي پراختیا علمي غونډې د سیمینار له بهیرڅخه لیدنه وکړه

د پوهنې وزارت د ښوونې او روزنې معین محترم شیخ عبدالمالک حقاني، د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا د رئیس محترم مولوي محمد ابراهیم عمري په ملتیا، د نورستان، ننګرهار، بلخ او نورو ولایتونو د ښوونکو د مسلکي پراختیا د ۸۵ تنو غړو لپاره د مسلکي ورتیا لوړولو له جوړ ...

۲مخ



## پوهنې وزارت په تېرو شپږو میاشتو کې څه د پاسه ۱۲۲ زره شهادتنامې وېشلې دي

د پوهنې وزارت ویاند محترم قاري منصور احمد حمزه د معارف اونیزې سره په ځانګړې مرکه کې وویل: د روان ۱۴۰۴ ښوونیز کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د پوهنې وزارت له لوري ټولټال ۱۲۲ زره ۲۵۰ قطعې شهادتنامې چاپ او زده‌کوونکو ته وېشل شوي دي.

نوموړي زیاته کړه د افغانستان اسلامي امارت د واکمنۍ له پیل راهیسې تر اوسه نږدې ۸۹۲ زره ۱۳۸ قطعې شهادتنامې د CMIS سیستم له لارې چاپ او توزیع شوي، چې دا ګام د تعلیمي اسنادو مدیریت په برخه کې یو له مهمو لاسته‌راوړنو څخه شمېرل کېږي.

محترم حمزه د خپلو خبرو په دوام وویل: د فارغانو غوښتنو ته په کتو، د مهر لپاره شاوخوا ۱۸ زره ۹۰۰ شهادتنامې بهرنیو چارو وزارت ته استول شوي، ترڅو په رسمي توګه تصدیق شي.

په ورته مهال ولایتونو ته د شهادت نامو لپاره د سپینو ورقو وېش هم په ښه توګه ترسره شوی دی، چې په دې موده کې ۱۱۰ زره ۹۰۹ قطعې سپینې ورقې د کابل او نورو ولایتونو پوهنې ریاستونو ته استول شوي دي.

د پوهنې وزارت ویاند زیاته کړه: د ۲۶۹۰ بابه تعلیمي مرکزونو د فارغانو نتایج تأیید او تطبیق شوي، چې پکې ۱۹۱۵ بابه دولتي، ۳۷۴ بابه خصوصي، ۳۳۳ بابه د اسلامي زده‌کړو، ۲۵ بابه دارالمعلمینونه او ۴۳ بابه بهرنۍ ښوونځي شامل دي. دغه راز د لسګونه زره فارغانو پېژندنې په CMIS سیستم کې ثبت شوي، چې ۱۷ زره ۴۷۹ د عمومي زده‌کړو،...

۲مخ



## مساعدت ۴۰،۲ میلیون افغانی با مدارس دینی ولایت پکتیکا

مسئولان در ریاست معارف ولایت پکتیکا میگویند که در شش ماه نخست سال جاری ۱۴۰۴ خورشیدی مجموعاً ۴۰.۲ میلیون افغانی از سوی بنیاد های خیریه، تجار ملی و باشنده گان ولایت پکتیکا با مدارس دینی در این ولایت مساعدت نقدی صورت گرفته است.

به گفته مسئولین معارف آن ولایت، از مبلغ مذکور در بخش های ترمیم تعمیرات و اعمار صنف‌های جدید درسی، خرید قرطاسیه و لوازم اداری وغیره به مصرف رسیده است.

محترم مولوی عبدالوکیل خالد، رئیس معارف ولایت پکتیکا...

ص۲

سرمقاله

## د کورنۍ دندې تر سره کول د زده کړې پیاوړی بنسټ دی

بسم الله الرحمن الرحیم

اَلحَمدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلَوٰةُ وَالسَّلَامُ عَلَى سَیِّدِالمُرسَلِینَ وَعَلَى آلِهِ وَأَصحَابِهِ أَجْمَعِیْنَ

د زده کړې په بهیر کې د زده کوونکو له لوري د کورنۍ دندې پر خپل وخت ترسره کول او د ورځنیو درسونو تکرارول د اغېزمن او دوامدار تعلیم بنسټ جوړوي. کله چې طلاب العلم او زده کوونکي د مدرسې او ښوونځي له درسونو وروسته کورنۍ دنده ترسره کوي، دوی دا فرصت مومي هغه څه چې اورېدلي، لوستلي یا حفظ کړي، یو ځل بیا له سره مرور او په خپل فهم سره یې حل کړي. دا کار د هغوی استعداد پیاوړی کوي. دا عمل طلاب العلم او زده کوونکو ته دا زمینه برابروي چې خپلې نیمګړتیاوې وپېژني، له تکرار او تمرین سره خپلو مهارتونو ته وده ور کړي او د زده کړې په بهیر کې فعاله ونډه واخلي.

همداراز دا کار هغوی ته دا احساس ورکوي چې زده کړه زما په ژوند کې د مثبت ښه والي بدلون را منځ ته کوي. زده کوونکي چې ورځني درسونه تکراروي، د مفاهیمو یاددښت یې پیاوړی کېږي او دا معلومات یې له لنډمهاله حافظې څخه اوږدمهاله حافظې ته انتقالېږي، چې دا کار د امتحانونو پر مهال د زیات فشار مخه نیسي، د کورنۍ دندې پر وخت تر سره کول او د ورځنیو درسونو تکرار نه یوازې د زده کوونکي د ذهن او زده کړې د پیاوړتیا سبب ګرځي، بلکې د هغوی د شخصیت په وده کې هم رغنده رول لري. کله چې طلاب العلم او زده کوونکی له مدرسې او ښوونځي وروسته د یو منظم مهال وېش له مخې د درس لپاره ځانګړی وخت په پام کې نیسي، نو دا کار د وخت د مدیریت، نظم، او پلان جوړونې حس پیاوړی کوي، چې دا مهارتونه یې نه یوازې د زده کړې په بهیر کې، بلکې په ټول ژوند کې د چارو د ښه تر سره کولو په برخه کې مرسته کوي.

بل لور ته کورنۍ دنده د والدینو لپاره یوه کړکۍ ده چې د خپلو اولادونو پر ښوونیز پرمختګ، هڅو او ستونزو ځان خبروي او له هغوی سره د زده کړې په برخه کې مرسته کوي. که څه هم ځینې طلاب العلم او زده کوونکي له کورني دندې یا د درسونو له تکرار سره د سټریا او فشار احساس کوي، خو دا ستونزې د استاذانو، ښوونکو، والدینو، طلاب العلم او زده کوونکو ترمنځ د همغږۍ او تفاهم له لارې حل کېدلی شي. د کورنۍ دندې اندازه باید مناسبه وي، د زده کوونکو د کچې او عمر سره سمه وي او داسې ترتیب شي چې طلاب العلم او زده کوونکي یې د حل پر مهال فکر او کوښښ ته وهڅول شي، نه دا چې یوازې د مکلفیت لپاره یې بشپړه کړي. همداراز، باید طلاب العلم او زده کوونکي په دې باندې پوه کړل شي چې ولې کورنۍ دنده مهمه ده او څنګه کولی شي له هغې ګټه پورته کړي تر څو هغوی د کورنۍ دندې د ارزښت او د زده کړې په بهیر کې په مثبتو پایلو باخبره شي.

## بدخشان ولایت ته د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد د محترم رئیس سفر

د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد رئیس محترم الحاج مولوي جمعه خان "سروري" د بدخشان ولایت د دعوت او ارشاد له مسئول محترم مولوي خالد امین په ملتیا، د یاد ولایت بهارک ولسوالۍ ته سفر وکړ.

د دې سفر پر مهال پلاوي د بهارک ولسوالۍ په پوهنې آمریت کې د بهارک، شهدا، وردوج او جرم ولسوالیو د پوهنې له مسئولینو او د ښوونځیو له چارواکو سره ولیدل او د پوهنې د کیفیت لاښه والي لپاره یې د ننګونو، اړتیاوو او فرصتونو په اړه هراړخیز بحث وکړ.

په یاده غونډه کې د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد رئیس محترم الحاج مولوي جمعه خان سروري ټینګار وکړ چې د پوهنې نظام باید نه یوازې پوهه انتقال کړي، بلکې د اسلامي اخلاقو او ارزښتونو په برخه کې د مبلغ دنده هم پر مخ یوسي او موږ ژمن یو چې دا همغږي له مرکز څخه تر ولسوالۍ پورې وساتو او پیاوړې یې کړو.

همدارنګه د بدخشان ولایت پوهنې رئیس محترم الحاج مولوي محمد طاهر جواد په خپلو خبرو کې وویل چې بدخشان ولایت د خپل ځانګړي جغرافیایي موقعیت او ګڼ شمېر ننګونو سره سره تل د علمي او تعلیمي پرمختګ په سر کې ځای لري او موږ هڅه کوو چې د پوهنې وزارت سره په نږدې همکارۍ کې د دې ولایت ټولو ماشومانو ته د باکیفیته دیني او عصري زده کړو زمینه برابره کړو.


په ورته مهال مشرتابه پلاوي د بهارک ولسوالۍ له ځینو ښوونځیو څخه هم لیدنه وکړه، له چارواکو، ښوونکو او زده کونکو سره یې ولیدل او د هغوی د ستونزو په اړه یې معلومات ترلاسه کړل.

## برگزاری ورکشاپ ارتقای ظرفیت برای مدیران و معلمان مکاتب هرات

ورکشاپ یک‌روزهٔ ارتقای ظرفیت در رابطه به «روان‌شناختی شاگردان » با اشتراک ۱۰۰ تن مدیران و معلمان ۵۰ باب مکتب مرکز ولایت هرات برگزار گردید.

در این برنامه محترم مولوی رحمت‌الله جابر رئیس معارف ولایت هرات، ضمن قدردانی از هم‌کاری مسئولان بخش های تامین کننده در قسمت برگزاری این ورکشاپ، بر نقش اساسی معلمان در رشد روانی، فکری و رفتاری شاگردان تأکید نمود.

وی گفت: معلمان تنها مسئول انتقال دانش




برای شاگردان نبوده؛ بلکه به‌عنوان الگوهای فکری و رفتاری، تأثیرات عمیقی بر شخصیت شاگردان دارند.

این ورکشاپ با هم‌کاری مشترک ریاست معارف و جمعی از متخصصان روان‌شناسی یکی از شفاخانه های شهر هرات برگزار شد که در جریان آن موضوعاتی چون مهارت‌های ارتباط مؤثر با شاگردان، مدیریت استرس در محیط تعلیمی، درک وضعیت روانی شاگردان و راه‌کارهای مقابله با خشونت و پرخاشگری در صنف، مورد بحث و آموزش قرار گرفت.

### د پوهنې محترم وزیر په میدان وردګ...

پوهنې وزارت په ټول هېواد کې د پوهنیز نظام متوازن پرمختګ او پراختیا ته ژمن دی. همدارنګه نوموړي ژمنه وکړه چې د یادې مدرسې لپاره به رسمي بستونه هم په پام کې ونیول شي.

د میدان‌وردګ ولایت پوهنې رئیس محترم مولوي محمد عثمان حریت په وینا: یاده دیني مدرسه په اساسي ډول په ۲ پوړونو کې جوړه شوې، چې له ټولو اړینو اسانتیاوو سره ۱۲ درسي خونې لري چې په جوړېدو سره یې د سلګونو تنو طلابو لپاره مناسب او معیاري تعلیمي چاپېریال برابر شو.

همدارنګه د سیمې اوسېدونکو هم د یادې مدرسې له جوړېدو خوښي ښکنده کړه او دعلم او پوهې د ودې او پیاوړتیا په برخه کې یې د هر راز مرستې او همکارۍ ژمنه وکړه.

### تقدیر شاگردان ممتاز جامعه...

مکلفیت‌های فردی و اجتماعی شان، ابراز داشت که وزارت معارف با استفاده از امکانات موجود تلاش می نماید تا زمینه تعلیم را برای اولاد وطن فراهم نماید.

در پایان محفل شاگردان ممتاز را که پس از سپری نمودن امتحانات چهارو نیم ماهه نمرات بلند بدست آورده بودند را با اهدای لوح تقدیر و جوایز مورد شفقت قرار داد.

### افتتاح دوباب مکتب از ...

وزیرمحترم معارف در مراسم افتتاحیه مکاتب و پروژه های یاد شده، گفت: وزارت معارف براساس نیازمندی های موجود، ایجاد فضای مناسب درسی را برای شاگردان در اولویت های کاری خویش قرار داده و در تطبیق این اصل تلاش می نماید.

### د ښوونې او روزنې محترم معین د...

شوي درې ورځني سیمینار څخه لیدنه او څارنه وکړه.

د پوهنې وزارت معین د سیمینار څخه د لیدنې پر مهال د سیمینار ګډون والو ته وینا وکړه او ویې ویل: اړینه ده چې له دغه پروګرام څخه اعظمي ګټه پورته کړئ او په خپلو دندو کې یې پلي کړئ. بې له شکه، په داسې علمي پروګرامونو کې ګډون به د ښوونکو مسلکي او اساسي ستونزې حل او د زده کوونکو د پوهې د کچې په لوړولو کې به مثبت اغېز را منځ ته شي.

همداراز په سیمینار کې ګډون کوونکو علمي غړو د هېواد په نورو ولایتونو کې هم د ورته سیمینارونو د دوام غوښتنه وکړه.

### مساعدت بیش از ۴۰ میلیون افغانی...

ضمن قدردانی از این مساعدت‌ها، مدارس دینی را بنیاد تربیه اخلاقی و عقیدوی جامعه عنوان نموده و اذعان داشت؛ اطمینان می دهیم که مساعدت ها به گونه درست و شفاف به مصرف رسیده است.

### پوهنې وزارت په تېرو ...

۱۱ زره ۳۶۹ د اسلامي زده کړو، ۸۹ زره ۷۹۳ د ښوونکو د روزنې، ۲ زره ۵۸۳ د بهرنیو او ۱۲۲۱ د سامع فارغانو اسناد پکې ثبت شوي دي.

نوموړي وویل: د آرشیف سره د فارغانو جدولونه هم په ښه ډول تطبیق شوي؛ په تېرو شپږو میاشتو کې د ۷۰۰ زره زیات جدولونه د دولتي، خصوصي، اسلامي او بهرنیو زده‌کړو فارغانو په اړه تطبیق او مهر شوي دي او ټولټال تر ۳ مېلیونه ۸۳۵ زره ۳۷۸ فارغانو سوابق سیستم ته داخل شوي دي او هم پر دې سربېره، په زرګونو د کار یا دندې فورمې، کانکور فورمې او عرض‌پاڼې تأیید او طی مراحل شوې دي.

نوموړي د جعلي اسنادو د مخنیوي په برخه کې وویل چې، د CMIS سیستم پرمختګ ته په کتو، د جعلي اسنادو د مخنیوي لپاره درې پړاوه تأییدي پروسه فعاله شوې، چې په یاد سیستم کې تر اوسه د ۴مېلیونه۱۳۷ زره ۸۶۹ تنو زده‌کوونکو سوابق داخل شوي او ۱ مېلیونه۳۷ زره ۵۳۷ قطعې شهادتنامې چاپ شوې، چې د اړتیا وړ ۳۰۸ زره شهادتنامې هم اخیستل شوي دي، ترڅو د تعلیمي اسنادو په ذخیره کې د ستونزو مخه ونیول شي.

د نوموړي په خبره دا پرمختګونه د پوهنې وزارت د تعلیمي اسنادو د روڼ او دقیق مدیریت په برخه کې د هڅو ښکندونه کوي او دا په حقیقت کې د هېواد د تعلیمي بنسټونو د بهتره خدمت لپاره یو مهم ګام ګڼل کېږي.

### د پوهنې محترم وزیر د خوست ...

لا ښه‌والي لپاره باید نوښتګر او علمي تدریسي مېتودونه وکارول شي.

د یادونې وړ ده چې د پوهنې محترم وزیر په تعلیمي ادارو کې د زده‌کړې کیفیت او د زده‌کونکو د وضعیت ارزونې او د تعلیمي چاپېریال لاښه والي په موخه بېلابېلو ولایتونو ته سفرونه پیل کړي دي.

### دیدار معین تعلیمات اسلامی با...

تحصیلات عالی گفت که آن‌ها تدابیر لازم را جهت برگزاری امتحان اتخاذ کرده و در این خصوص به وزارت معارف اطمینان داد.

در پایان جلسه، تصمیمات لازم دربارهٔ چگونگی اخذ و تعیین تاریخ برگزاری امتحان یاد شده از بابت سال ۱۴۴۷ هجری قمری که قرار است به صورت مشترک از سوی هردو وزارت گرفته شود، اتخاذ گردید.

## لنډخبرونه

### د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت لخوا پوهنې وزارت ته ۲ جریبه ځمکه په واک کې ورکړل شوه

پوهنې وزارت کې د تعلیمي زیربناوو د ملاتړ او پراختیا په اړه د افغانستان د اسلامي امارت د مشرتابه عالي مقام د حکم سره سم، د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د یوې غونډې په ترڅ کې په رسمي ډول د هلمند ولایت په مارجې ولسوالۍ کې د یو باب ښوونځي د جوړېدو په موخه ۲ جریبه ځمکه د پوهنې وزارت په واک کې ورکړه.

### د میدان وردګ اوسېدونکو د ښوونځیو د بیارغونې لپاره ۲،۵ مېلیونه افغانۍ مرسته وکړه

د میدان وردګ ولایت پوهنې ریاست مسئولینو د معلوماتو په اساس د روان کال په ورېي میاشت کې د یاد ولایت اوسېدونکو په ټولیزه توګه په دې ولایت کې د ښوونځیو د بیارغونې په موخه د پوهنې ریاست سره ۲ مېلیونه۵۵۳ زره۵۹۲ افغانۍ مرسته کړې ده. د میدان‌وردګ ولایت پوهنې مسئولین وایي چې د پیسو دغه اندازه د ۳۴ بابه ښوونځیو په بیارغونه او تجهیزاتو کې مصرف شوې.

### په ننګرهار ولایت کې د راستنېدونکو کډوالو له ۳۰۰ څخه زیاتو ماشومانو نوم لیکنه کړې ده

د تورخم په عمري کمپ کې د راستنېدونکو زده کوونکو د نوم لیکنې بهیر روان دی او د یوې خیریه ادارې په همکارۍ د هغوی لپاره اړینې اسانتیاوې برابرې شوې دي.
د ننګرهار پوهنې ریاست د مسئولینو په وینا، د مهمند درې ولسوالۍ پوهنې آمریت په همکارۍ د راستنېدونکو کډوالو ټولټال ۳۰۹ تنه ماشومان ثبت شوي دي، چې له دې ډلې ۷۳ تنه یې د ننګرهار ولایت او پاتې یې د نورو ولایتونو دي.

### په هرات ولایت کې د یو باب ښوونځي سره د مېزونو او څوکیو مرسته وشوه

یوې خیریه ادارې د هرات ولایت قوسنان عالي لېسې ته د ۴۲۰ زره افغانیو په لګښت ۲۰۰ پایې مېزونو او څوکیو مرسته وکړه.
د هرات ولایت پوهنې رئیس محترم مولوي رحمت الله جابر د یادې ارزښتناکې مرستې ستاینه وکړه او دا یې د ښوونځي د تعلیمي وضعیت لا ښه والي لپاره یو اغېزمن ګام وباله.

### تهداب گذاری تعمیر جدید یک باب مکتب در ولایت زابل

سنگ تهداب ساختمان جدید برای لیسه عالی بره خان ولسوالی شاه جوی ولایت زابل، با حضور مسئولین معارف و مردم محل گذاشته شد.
این ساختمان که به هزینه ۸ صد هزار افغانی در ۴ جریب زمین وقف شده از سوی مردم ولسوالی یاد شده از بودجه شورای مکتب اعمار می‌شود که شامل ۱۰ صنف درسی، یک بخش اداری و سایر ملحقات ضروری آن بوده که با تکمیل آن برای حدود ۷۰۰ تن شاگرد محیط امن و مناسب جهت آموزش فراهم خواهد شد.

### توزیع کتب درسی در مکاتب و مدارس ولایت کابل تکمیل شد

روند توزیع ۲۶۵ هزار و ۵۳۲ جلد کتاب درسی از سوی وزارت معارف به مکاتب و مدارس ولسوالی های چهارده گانه ولایت کابل به پایان رسید.
محترم الحاج مولوی عبدالسلام شعیب رئیس معارف ولایت کابل، هدف اساسی این برنامه را فراهم‌سازی زمینه دسترسی عادلانه و مساویانه شاگردان به منابع درسی و نیز ارتقای کیفیت آموزشی در تمام مراکز تعلیمی این ولایت دانسته، افزود که ریاست معارف ولایت کابل با همکاری وزارت معارف تلاش خواهد کرد تا در آینده نیز مشکلات کمبود کتاب و سایر نیازمندی‌های درسی شاګردان را رفع نماید.

# باران د الله تعالی رحمت دی؛ اوبه یې مه ضایع کوئ!

**لیکنه: انجنیر جوادالله جاهد**



باران د الله تعالی رحمت دی، باران شاړې ځمکې زرغونوي، نباتاتو ته د پورته کېدو او ټوکېدو انرژي ورکوي، باران د ځمکې لاندې حیاتي مادې (اوبو) د غني کولو مهمه منبع ده، د باران هر څاڅکی با ارزښته دی او له دې هر څاڅکي د استفادې لپاره یې باید منظم پلان جوړ شي. د باران اوبه عادي مه ګڼئ؛ بلکې د یوه سیستم له لارې دې دغه اوبه ذخیره او په ځینو برخو کې استفاده کړئ.

سیستم جوړونه یواځې د حکومتونوکار ندی بلکې په دې برخه کې هر وګړی جلا مسئولیت او مکلفیت لري، د بېلګې په ډول که تاسو د کور انګړ کې باغچه لرئ، د باران پر مهال د کور انګړ کې داسې سیستم ساده جوړولای شئ چې د بامونو اوبه مو یوې ذخیرې (د اوبو ټانکۍ) ته انتقال کړئ او بیا له همدې اوبو څخه د اړتیا پر مهال د باغچې د خړوبولو برخه کې استفاده وکړئ؛ په دې کارسره به مو دوې ګټې کړې وي لومړۍ د باران اوبه ذخیره کول او دویم دا چې د کښت او باغچې لپاره به مو له لګښت پرته ترټولو ګټورې اوبه پیداکړې وي.

کارپوهان وایي، د باران اوبه د کرکیلې لپاره ډېرې ګټورې وي، ځکه له هر ډول خطرناکو کیمیاوي موادو پاکې او خوندي وي.

افغانستان کې د باراني اوبو ذخیره کول ځکه ډېر ګټور دي چې د افغنستان ډېره برخه نسبتا وچه هوا لري او د کلني باران دتوپیر کچه په کې کمه ده، خو له بده مرغه ډېری وختونه دا کم ورښت هم په ساحه کې د سیلابونو لامل ګرځي، چې کنترول او مدیریت یې اړین دی.

له نېکه مرغه په دې وروستیو کې د اړوند ادارو لخوا د اوبو ذېرمه کېدو ته ځانګړې پاملرنه شوې، په ډېری ولایتونو کې د اوبو د ساتنې او مدیریت په موخه چک ډمونه او ژورې څاګانې جوړې شوې دي چې له شک پرته دا کار د ځمکې لاندې اوبو لپاره ډېر ګټور تمامېږي.

راځئ هر یو د باران اوبو زېرمه کولو کې خپل مسئولیت ادا کړو او د باران پاکې اوبو د استفادې لپاره ذخیره کړو.

د نړۍ ځینې هیوادونو کې د باران اوبه څه ډول زېرمه کېږي؟

۱-جاپان کې (رین واټر هارویسټینګ سیسټم) کابو هر کور کې شته. هلته باران ډېر وي نو جاپانیان یې یوازې د سیلابونو د خطر د کمولو په خاطر نصبوي.

۲-د اندونیزیا په لویو ښاري سیمو کې تر ځمکې لاندې اوبه په کمېدو دي، نو ځکه هلته حکومت یوه مقرره معرفي کړې چې باید ټولې ودانۍ د نفوذ څاه ګانې ولري، چې له دې لارې به د ځمکې لاندې اوبو بیا رغونه وشي.

۳-د باران د اوبو ذخیره کولو یا کښت سیستم اهمیت ته په کتو اوس مهال د برازیل په نیمه وچو سیمو کې دا سیستم د تعلیمي پروګرامونو یوه برخه ده.

# په خپل ځان باوري اوسئ!

په ځان د باور نشتوالی هغه احساس دی، چې وخت په وخت زمونږ په زړه او فکر کې راپیدا کېږي او مونږ ته شک پیدا کوي، چې آیا مونږ د خپل کار ترسره کولو ته چمتو یو؟ یا خپل مسئولیت ته ژمن یو؟

ډېر خلک د دې موضوع د اهمیت سره سره په خپل ځان د باور ښه کولو په اړه فکر نه کوي، چې همدې کار ډېری متخصصین ځېرنې ته هڅولي دي، چې په دغو متخصصینو کې تر ټولو مخکښ یې ډاکټر ابراهیم الفقي دی.

ډاکټر ابراهیم الفقي په ځان د باور زیاتولو موضوع باندې هر اړخیزه بحث کړی، هغه وایي: په ځان باور د حالاتو سره په مثبت ډول چلند سره ترلاسه کېږي، نوموړي په ځان د باور زیاتولو لپاره ۱۲ ګامونه په پام کې نیولي، چې مونږ یې یو په یو یادونه کوو.

۱- خپل ځان ته مهربانه اوسئ، خپلې تېروتنې د نورو په غاړه مه اچوئ، د قلم او کاغذ څخه د هغه لاملونو د ثبتولو لپاره کار واخلئ، چې د اصلي او فرعي ستونزو د رامنځته کېدو او پراخېدو لامل شوي وي.

۲- د ستونزې سرچینې ته له رسېدو وروسته، د حل په لټه کې شئ، خپل فکرونه تنظیم کړئ، وېره مو کنټرول کړئ او په خپل ځان بېرته باور ترلاسه کړئ.

۳-خپل ځان قانع کړئ؛ هغه جملې تکرار کړئ، چې تاسو بدلون ته هڅوي او له منفي فکرونو څخه ډډه وکړئ.

۴- خپل ځان له نورو سره مه پرتله کوئ، په یاد ولرئ چې د یو او بل ترمنځ توپیرونه شتون لري، تاسو، چې په کوم شي کې ځانګړي یئ، په همغه تمرکز وکړئ.

۵- تل د مثبتو او ځانګړیو خلکو سره اړیکې ساتئ.

۶-د هرې پریکړې د ګټو او زیانونو لېست جوړ کړئ او موضوع په هر اړخیز ډول وڅېړئ.

۷- د خپل ځان په وړاندې آرامه اوسئ.

۸- له تېرو تجربو زده کړه وکړئ او هم په پخوانیو پرېکړو بیا کتنه وکړئ.

۹- د فکر کولو لپاره وخت ځانګړی کړئ او په ورځ کې نیم ساعت د فکر کولو او پلان جوړولو لپاره وټاکئ.

۱۰- په مثبتو ټکو تمرکز وکړئ او هم د هغو په بیا ځلي پلټلو ځان عادت کړئ.

۱۱- د قرآن کریم لوستل او دعا کول مه هېروئ، ځکه دا د انسان زړه ته سکون او ډاډ ورکوي.

۱۲- خپل ظاهر ته هم پام وکړئ او په دې برخه کې غفلت مه کوئ.

ترتیب کوونکی سعادت

## شعر درباره علم

دعوی مکن که برترم از دیگران به علم
چون کبر کردی از همه دونان فروتری

از من بگوی عالم تفسیرگوی را
گر در عمل نکوشی نادان مفسری

بار درخت علم ندانم مگر عمل
با علم اگر عمل نکنی شاخ بی‌بری

علم آدمیست و جوانمردی و ادب
ورنی ددی، به صورت انسان مصوری

از صد یکی به جای نیاورده شرط علم
وز حب جاه در طلب علم دیگری

هر علم را که کار نبندی چه فایده
چشم از برای آن بود آخر که بنگری

سعدی



# Marif
Weekly

کتنپلاوی: شیخ محمد طاؤس «طارق»، مولوي عزیز احمد «ریان»، مفتی حبیب الله «قتاده نوري»، احمد شعیب «حقیقي»، عبدالصبور «غفراني»، محمد نسیم «عیاذ»

مسئول مدیر: سعید «جلال»

انځور اخیستونکی: محمد ادریس «نوري»

صفحه آرا : محمد قسیم «یعقوبي»

شمېر : ۳۰۰۰

پته: کابل ښار، غازي محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت
د نشراتو او عامه اړیکو ریاست، د نشراتو او عامه پوهاوي آمریت

**د پوهنې کاروان مینه والو!**
تاسو کولای شئ خپلې لیکنې، وړاندیزونه او نیوکې په لاندې برېښنا لیک او تلیفون شمېرې له موږ سره شریکې کړئ.

Marifnewspaper1919@gmail.com

د اړیکې شمېره: ۰۷۲۸۴۰۷۲۷۲

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 311 /2025


## د پوهنې محترم وزیر
# د خوست ولایت له ځینو مدارسو او ښوونځیو څخه لیدنه وکړه

د پوهنې وزیر محترم الحاج مولوي حبیب الله آغا خوست ولایت ته د سفر پرمهال له یو شمېر دیني مدارسو او ښوونځیو څخه لیدنه وکړه او له مسئولینو او زده‌کوونکو سره یې وکتل.



نوموړي د یادو لیدنو په بهیر کې ټینګار وکړ چې د پوهنې د کیفیت لاښه والي لپاره باید د نورو مسائلو ترڅنګ ښوونیز چاپېریال ته هم ځانګړې پاملرنه وشي، ترڅو زده‌کوونکي وکولای شي په مناسبه ښوونیز چاپېریال کې خپلو زده‌کړو ته دوام ورکړي.

د پوهنې محترم وزیر په ټولګیو کې له طلابو او زده‌کوونکو سره خبرې وکړې او هغوی ته یې ډاډ ورکړ چې د پوهنې وزارت به د شته امکاناتو په کارولو سره اړینې اسانتیاوې برابرې او د ماشومانو لپاره به د ښوونې او روزنې بهیر نور هم ښه کړي.

نوموړي زیاته کړه: "زموږ ژمنه دا ده چې په هېواد کې ټولو ماشومانو ته د معیاري زده‌کړو زمینه برابره کړو ترڅو زده‌کوونکي ډاډه شي چې د پوهنې وزارت یې بشپړ ملاتړی دی."

همدارنګه د پوهنې محترم وزیر د مدارسو او ښوونځیو له مسئولینو څخه وغوښتل چې په ټاکلي وخت کې تدریسي بهیر پیل کړي، د زده‌کوونکو په منظمې حاضرۍ یې ټینګار وکړ او سپارښتنه یې وکړه چې د زده‌کړې کیفیت ...

۲مخ

## سفر معین محترم تضمین کیفیت وزارت معارف به ولایت ننگرهار

محترم الحاج مولوی عبدالخالق صادق، معین تضمین کیفیت وزارت معارف همراه با محترم مولوی صدرالدین سعد رئیس مالی این وزارت طی سفری به ولایت ننگرهار از ریاست معارف آن ولایت، آمریت معارف ولسوالی خوگیانی و مکتب «حکیم‌آباد» آن ولسوالی بازدید نمود.

معین محترم تضمین کیفیت پس از دیدار از لیسه حکیم آباد و شنیدن مشکلات لیسه یاد شده، با بزرگان قومی منطقه دیدار و در رابطه به وضعیت تعلیم و تربیه در آن ولسوالی گفتگو کرد و در قسمت حل مشکلات تعلیمی ولسوالی خوگیانی، وعده همکاری سپرد.

در همین حال مسئولین معارف ولایت متذکره نیز از سفر هیئت به ولایت ننگرهار سپاس‌گزاری نمودند.

## دیدار معین تعلیمات اسلامی با هیئت وزارت تحصیلات عالی

محترم الحاج مولوی کرامت الله آخندزاده معین تعلیمات اسلامی وزارت معارف با هیئت بلند رتبه وزارت تحصیلات عالی به سرپرستی محترم الحاج مولوی حافظ حامد حسیب معین مالی و اداری آن وزارت در حالی که محترم الحاج مولوی اسدالله فرید رئیس عمومی جامعات و تخصصات دینی وزارت مذکور نیز حضور داشت ملاقات نمود.




طرفین در این نشست در مورد امتحانات مشترک مراحل ثانویه، مافوق ثانویه، عالیه و عالمیه مدارس دینی از بابت سال ۱۴۴۷ هجری قمری با هم بحث و گفتگو کردند.

معین محترم تعلیمات اسلامی وزارت معارف، این امتحان را برای طلاب و فارغان مدارس دینی ضروری دانسته و تأکید کرد که باید امتحان یاد شده با همکاری و تشریک مساعی هردو وزارت به صورت احسن برگزار شود.

در مقابل معین محترم مالی و اداری وزارت...

ص۲

## پکتیکا ولایت کې د یوې دیني مدرسې نوې ودانۍ پرانیستل شوه

د پکتیکا ولایت ارګون ولسوالۍ اړوند رحمانیه دیني مدرسې نوې ودانۍ چې د جوړونې چارې یې څه موده وړاندې د یادې ولسوالۍ د اوسېدونکو په مالي مرسته د شاوخوا ۲ مېلیونه افغانیو په لګښت پیل شوې وې د یاد ولایت د پوهنې ریاست مسئولینو له لوري د یو لړ مراسمو په ترڅ کې پرانیستل شوه.

د یاد ولایت پوهنې رئیس محترم مولوي عبدالوکیل خالد وویل: یاده ودانۍ چې په پاخه او اساسي ډول سره جوړه شوې ۸ درسي ټولګي او نور اړین ملحقات لري.




هغه زیاته کړه: چې د یادې مدرسې په جوړېدو سره د سیمې سلګونو تنه طلاب العلم ته د زده کړې مناسب چاپېریال را منځ ته شو.

نوموړي له ښوونیز نظام څخه د پکتیکا ولایت د اوسېدونکو له مادي او معنوي ملاتړ مننه وکړه د هېوادوالو مرسته او ملاتړ یې په هېواد کې د علم او پوهې په وده کې مهم وباله.

همداراز د سیمې اوسېدونکو د یادې دیني مدرسې له جوړېدو خوښي څرګنده کړه او ژمنه یې وکړه چې د علم او پوهې په وده کې به خپلو هر اړخیزو مرستو ته دوام ورکوي.

## عقد قرار داد ترمیم ۱۲ باب ساختمان اداری و تدریسی در ولایت لوگر

ریاست معارف ولایت لوگر قرار داد ترمیم ۱۲ باب ساختمان اداری و تدریسی ریاست معارف این ولایت را به ارزش ۶.۵ میلیون افغانی با یک شرکت ساختمانی خصوصی امضاء نمود.

مسئولان در ریاست معارف ولایت لوگر میگویند که بر اساس این قرار داد تعمیر ریاست معارف این ولایت، دو باب مدرسه دینی و ۹ باب مکتب به گونه اساسی بازسازی خواهند شد که کار عملی آن به زودی آغاز می گردد.

قابل ذکر است که پیش از این نیز یک پروژه بزرگ بازسازی ۴۹ باب مکتب با حمایت مالی یک نهاد کمک‌کننده در این ولایت آغاز شده بود.

## د دیني مدارسو طلابو کرامو ترمنځ د صرف او نحوې سیالۍ پیل شوې

د پوهنې وزارت اسلامي زده کړو معینیت د دارالعلومونو ریاست د پلان سره سم، د مدارسو او دارالعلومونو د طلابو کرامو علمي پوهې لوړولو په موخه د هېواد په یو شمېر ولایتونو کې د "صرف او نحوې" سیالۍ پیل شوې دي.

یادې سیالۍ چې ولایتونو ته د اسلامي زده کړو معینیت د لېږل شوو پلاویو تر څارنې لاندې ترسره کېږي د میدان وردګ، پروان، هرات او بدخشان ولایتونو د تعلیمي ادارو د شاوخوا ۴۰۰۰ تنو طلابو ترمنځ پیل شوې. د اسلامي زده کړو معینیت د چارواکو په وینا؛ ټاکل شوې ده چې د آزموینې پایلې د پوهنې وزارت د مسئولې کمېټې لخوا وارزول شي او پایلې به یې په نږدې راتلونکې کې اعلان شي، د پایلو تر اعلان وروسته به ممتازو طلابو ته ډالۍ ورکړل شي.

## آغاز ترمیم شماری مراکز تعلیمی به هزینه بیش از ۸ میلیون افغانی در بدخشان

به منظورمهیا نمودن هرچه بیشترامکانات و محیط مصئون آموزشی برای شاگردان مکاتب در ولایت بدخشان، کار ترمیم و بازسازی ۱۰ باب مکتب و یک مدرسه دینی به هزینه مجموعی ۸ میلیون و ۴۹۳ هزار افغانی از بودجه وزارت معارف در آن ولایت آغاز شد.

مسئولان ریاست معارف ولایت بدخشان می‌گویند که هدف اصلی این پروژه‌ها، فراهم‌سازی محیط معیاری و مصئون آموزشی برای شاگردان بوده که با تطبیق آن برای هزاران تن شاگرد سهولت های لازم تعلیمی فراهم می گردد.




**انسان با آموختن علم به حقانیت خداوند جل جلاله پی برده و حق را در مقابل باطل به خوبی تفکیک می کند.**